AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: بشرمل پسرلی ۲۰۲۴/۰۵/۰۴

# فډرالېزم: خیالي طرحه د تجزیې له ارمان سره

## ۷ برخه

**هه- بهرنی لاسوهنې:** ډېره مهمه داده چې د هر هېواد جیوپولیتیك سیاسي جغرافي موقعیت په یوه هېواد باندي منفي او مثبتې اغېزې لرلی شي، خو له بده مرغه د افغانستان دا ارزښتمن اقتصادي او سیاسي موقعیت افغانستان ته تل بد مرغی له ځان سره لري، همدا ده چې افغانستان تل د نورو هېوادونو د یرغل لاندې راغلی دی او هم که له سیاسي، نظامي او اقتصادي پلوه غښتلو هېوادونو غوښتي، چې په نورو هېوادونو قبضه وکړي، لمړی یې په افغانستان منګولې ټینګې کړې دي او بیا یې د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته د ځان رسولو کوښښونه کړې دي. د بېلګې په توګه، سکندر مقدوني له میلاد څخه ۳۳۱ کاله وړاندې د افغانستان له لارې په هند رهي شو، وروسته ګوډ تېمور په ۱۳۹۸او بیا بابر په ۱۵۲۶ میلادي کلونوکې د افغانستان له لارې هندوستان ته ځانونه رسولي دي. په همدې ترتیب، نادر افشار په ۱۷۳۸ میلادي کال کې له همدې لارې هندوستان ته ننوت. د ۱۸۱۳ څخه تر ۱۹۰۷ چې د انګلیسانو او تزاري روسیې تر منځ لویه لوبه ( Great Game) روان و، افغانستان څخه یې حایل ساحه ( Buffer State) جوړ کړی و او همدا شان کله، چې د ۱۹۴۷ څخه تر ۱۹۹۱ دغربي بلاك په راس کې یې امریکا متحده ایالات او کمونست بلاك په راس کې یې روسیه تر منځ سوړ جنګ ( Cold War) روان و ، د زور ازمایلو ډګر یې افغانستان و. ددې ټولو ترڅنګ، افغانستان د مستقیمو یرغلونو لاندې هم راغلی، درې ځله د انګلیسانو له لوري په ۱۸۳۸، ۱۸۷۹ او په ۱۹۱۹ میلادي کلونوکې، دوه ځله د کمونیستي روسې له لوري په ۱۹۲۹ او ۱۹۷۹ میلادي کلونوکې، د شلمې پېړی په اواخروکې د پاکستان، عربستان، ازبکستان او ایران د غیر مستقیم یرغل لاندې راغلی او بالاخره نړیواله ټولنه د امریکا کتحده ایالاتو په مشری ، ددوی په وینا دتروریزم د جرړو د له منځه وړلو په پار په ۲۰۰۱ میلادي کال کې افغانستان ته راننوتله. دغو ټولو مستقیمو او غیر مستقیمو یرغلونو ته افغان ولس په کلکه اسلامي، افغاني ،هېوادپالنې او ملت پالنې عقیدې او احساس ماتې ورکړې، خو په فدرالېزم کې سیمه او قوم پالنه پرمخ ځي او د هېواد پالنې او ملت پالنې احساس کمزوری کېږي، چې په دې حالت کې د نورو لاسوهنې او یرغلونه به عادي وي او پر وړاندې به یې د مقاومت هم څرک نه وي. ددې ترڅنګ، ایا کوم افغان به په دې فکر وي، چې په ځانګړې توګه ګاونډیان نه غواړي په افغانستان کې لاسوهنې وکړي او دا هم نه غواړي چې افغانستان د خپل نفوذ حوزه( Political Sphere ) وګڼي؟اوس هم قومي فدرال غوښتونکي د ځینو بهرنیو وګړو او سازمانونو په ډېر ویاړ یادونه کوي، چې افغانستان کې فدرالي نظام غواړي، خو دا نه روښانه وي، چې د څه لپاره؟ بهرنیانو په ځانګړې توګه نژدې او لرې ګاونډیانو د افغانستان په څلوېښت کلن ناورین کې خپلې شومې موخې په یو ډول نه یو ډول بربنډې کړې او ډېری یې په دې لټه کې دي، چې څنګه افغانستان د نړۍ له نقشې پاک کړي او یا یې د نفوذ حوزه او تابع دولت کړي، چې دا موخه په فدرال افغانستان کې په اسانۍ ترلاسه کېږي، چې دا چاره به نړیوالو ته لوی سرخوږی او افغان ولس د بدمرغۍ ګندې ته ور ټېل وهي، چې پورته کېدل به یې ناشوني وي. کله چې تجزیه او بهرنی لاسوهنې د فدرالېزم له ځانګړتیاو او پایلو څخه وي، نو څنګه افغانان کولی شي، چې دا هېواد دداسې ښامارانو په خوله کې ورکړي او ټول افغان قومونه په تل پاتې ناورین کې ور وغورځوي؟

**و- د فدرال غوښتونکو غیر هېوادیني افکار او اعمال او قومي عصبیت او د تجزیې ارمان:** هغه قومي سیاستوال، چې د فدرال طرحې وړاندې کوي، په دې تورن دي، چې د قومي، ژبني یا مذهبي تړاو پر بنسټ، اړوند بهرنیو دولتونو ته ډېره وفاداري څرګندوي. لکه ځینې اوزبکستان، ترکمنستان او ترکې ته ډېر ژمن دي، ځینې ترکې ته او ځینې نور هغه یې تاجکستان او ایران ته ډېر نژدې والی ښایي، خو جالبه داده چې پورتنې هېوادونه یو یې هم فدرال سیاسي نظامونه نه لري، پداسې حال کې چې ځینې یې مختلف لوی قومونه په یوه جغرافیه وي ساحه کې متمرکز هم لري، لکه ایران او ترکیه. په ورته وخت کې، قومي فدرال غوښتونکي په ډېر جنون او عصبیت او له نورو قومونو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په ځانګړې توګه له پښتنو په کرکه فډرالېزم مطرح کوي. ځکه افغانان په دې اند دي، چې که دا ډول عصبيت لرونکو ته فډرال ايالت رامنځ ته شي، دوی به هېڅکله د هېواد ګټې په پام کې ونه نيسي او نه به هم د مرکزي حکومت تابعيت وکړي، چې ځينو خپلې موخې له وړاندې څرګندې کړي. د بېلګې په توګه، افغانستان جعلي هېواد ګڼل، د تجزيې غبر پورته کول او د افغانستان بنسټ ايښودونکي او د خپلواکۍ اتل ته غير اخلاقي او غير انساني کلمات کارول. د هرفډرال غوښتونکي محصل د تيسس سرليک به د قومونو ترمنځ په شخړه، له افغانستان سره حساسيت او په تاريخ له تمسخره ډک وي. کله چې دا سياسيون په کوم نړيوال پروګرام کې ګډون کوي، ته به وا چې دوی هېڅ د افغانستان وګړي نه دي. له هرې مهمې ملي مسئلې سره به ددوی حساسيت او ضديت وي. ددوی عصبيت او کرکې ته په کتو افغانان متوجې شوي، که چېرې د افغانستان سياسي واک دوی ترلاسه کړي يا ددوی په خوښه سياسي نظام تنظيم شي، افغانستان به منحيث د يو هېواد نه وي پاتې. په نړۍ کې به هېڅ داسې دولت پيدا نشي چې فډرال غوښتونکي يې د هېواد له ملي هويت او تاريخي وياړونو او ارزښتونو سره په تضاد فډرال نظام يې رامنځ ته کړی وی. ايا د هند د فډرال نظام غوښتونکو او بنسټ ايښونکي د خپل هېوا خپلواکي نه مني؟ د خپلواکۍ اتلان نه مني، هندي ژبې سره يې عصبيت درلود؟ خو کله چې قومي فډرال غوښتونکي مطالعه کړې، تل يې امان الله خان چې د هېواد د خپلواکۍ، روشنګرۍ او د قانون د واکمنۍ له امله نه يوازې په افغانستان کې بلکې په نړۍ کې شهرت لري، ښکنځي! احمد شاه بابا(رح) چې د هېواد بنسټ ايښودونکی دی، ورته جنګ سالارې کبير وايي! ايا داسې کوم هېواد به وي چې خپل بنسټ ايښودونکي او د خپلواکۍ باني وکنځي؟ مګر د هغو له لوري چې نور هغه هېواد خپل و نه ګڼي او د تجزيې خيالات ورسره پيداشي. فرض کړئ چې افغانستان فډرالي سياسي نظام چوکاټ ومانه، ايا دا قومي فډرال غوښتونکي به د افغانستان نوم سره کرکه او حساسيت له منځه يوسې؟ ايا دوی به ځانونه افغانان و ګڼي؟ ايا د افغانستان تاريخي واقعيتونو او ارزښتونو ته به درناوی وکړي؟ ايا د افغانستان درې رنګه بيرغ او يا بل په هوکړې ټاکونکی بيرغ چې افغاني او غير خراساني وي، ومني؟ که چېرې په رايو پښتون ولسمشر يا صدراعظم وټاکل شي، دوی به يې و مني؟ ايا افغانۍ کرنسي به و مني؟ ايا د قومونو او ژبو ترمنځ د وروولئ جوړښت به و مني؟ واضح ده چې ځواب منفي دی. کله چې ځواب منفي وي، څنګه شونې ده چې د هېواد نامطلوب وضعيت په بحراني هغه واړول شي؟

**ز - د تجزيې مخنيوی:** کوم فډرال نظامونه چې تجزيه شوي، له افغانستانه ښه وضعيت کې و چې بايد تجزيه شوي نه وی، خو بيا هم تجزيه شول. که چېرې حتاهند او روسيې ځواکمنه اردو او قوي مرکزي نظام نه درلودی، په همدې کلونو کې به يې ډېر ايالتونه خپلواک شوي و. که چېرې د هند په لمړيو کې مودي مشر وی، وضعيت به بدل وی.د قومي فډرال غوښتونکو د هېواد د تجزيې موخې د پېريانو جګړې نه دي، چې انسانانو ته نه ښکاري، بلکې د قومي فډرال غوښتونکو دريځ، ليکل، بيان، رفتار او افکار د افغانستان په تجزيه سرخي. دا به ډېره له عقلانيت لرې خبر وي، چې وويل شي، چې قومي فډرال غوښتونکي تجزيه غوښتونکي نه دي. د بېلګې په توګه، قومي فډرال غوښتونکو تل دا ويلي، چې که ښه همشهريان نه شو، نو ښه ګاونډيان کېدی شو، د تجزيې سروې يې په لار اچولې او حتا افغانستان يو جعلي هېواد ګڼي.که په خيال کې متصور کړئ، چې افغانستان فډرال نظام خپل کړي، له عصبيت او له کرکې ډک فډرال غوښتوکي، چې له وړاندې د تجزيې زمزمې کوي، ايا مرکزي فډرال دولت ته به يې وفادارې زياته وي او که محلي هويت ته، ايا د مرکزي دولت افغاني هويت به ومني؟ ځينې فډرال غوښتونکي، چې ظاهراً د ارماني نړۍ په موخه د فډرال خيال يې رامنځته کړی، استدال کوي، چې موږ نسبت نورو هېوادوالو ته د هېواد په اتحاد لا ارادت لرو، خو دا له ياده باسي، چې همدا ښاغلي د دوشنبې، تهران او تاشکند سره حتا په بسيط متمرکز نظام کې هغه اړيکې پاللي، چې په نورو هېوادونو کې يې بېلګې نه دي ليدل شوي.ددې ترڅنګ ځينې هغه استخباراتي سازمانونه او بهرنۍ کړۍ چې افغانستان ته ښه نيت نه لري، له بېلابېلو چانسونوڅخه په ګټنې يې د فډرال طرحې وړاندې کړي او قومي فډرال غوښتونکو له لوري بدرګه شوي، چې دا په ماهيت کې د تجزيې تمايلات لري او نورو ته د لاسوهنې زمينه برابرول دي.

**ح- حاکم او عيني وضعيت:** لوی احمد شاه بابا(رح) په ۱۷۴۷ ميلادي کال کې د ملي ټولنې يعنی د نوي افغانستان بنسټ کېښود او ملك الطوايفي يې له منځه يوړه، خو کله چې لوی احمد شاه بابا په حق ورسېد، ملك الطوايفي بيا تر څه بريده حاکمه شوه، ترڅو چې امير عبدالرحمن خان سيمې بېرته د مرکز تابع کړې، خو کله چې د ازادۍ او پرمختګ د لارې لوی رهبر غازي امان الله خان په مدبرانه او شجاعانه رهبرۍ افغانستان خپله بشپړه خپلواکي واخيسته، بيا له هغه مهاله تر ۱۹۷۹ کلونو پورې افغانستان څه ناڅه د ثبات او پرمختګ پوړونه ووهل، خو له بده مرغه د شوري سرو لښکرو مستقيم يرغل څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې د کمونېزم او اسلام په نوم يو ډول انارشي او سستبدادي حاکمه وه. د ټولو څخه بدې پايلې يې داوې چې ملي ټولنه متزلزله شوه ، ددولت سيستمونه ړنګ شول، جنګ سالاران او محلي مليشې رامنځته شوې، بهرنۍ لاسوهنې معمول شوې او د ځينو سياسيونو ژمنتيا نورو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

هېوادونو ته د سياسي کلتور برخه وګرځېده. کله چې افغانستان د نړيوالي ټولنې په مرسته، د ولسواک، مشروع او هوسا ملت – دولت په لور په ۲۰۰۱ کال کې قدم پورته کړ، بهرنيو مخصوصاً د ګاونډيو لاسوهنو، جګړو، د قانون نه واکنۍ، د ولسواکه ارزښتونو له پامه غورځولو، پاپولستي او غير ملي سياستونو، محلي زورواکيو او د څواکمن مرکزيت د نه شتون له امله له بده مرغه شل کلن مزل پای ته ورسېد او له ۲۰۲۱ کال تر دې دمه وضعيت، چې په ځانګړې توګه افغان لونو، ښځو او ولسواکۍ ته د ژمنو افغانانو لپاره په دوزخ اوختی، د پېټېدو نه دی. کله چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته، جاپان ماته خوري او له ډېرو بد مرغيو سره مخامخ کېږي، خو ولې د ډېرشو کلونو په ترڅ کې ځان يو له اقتصادي ځواکونو شمېري او د مارشال پلان ۱۳ ميلیارده امريکايي ډالر ټوله غربي اروپا په پښتو درولی شي، خو موږ ته په شلو کلونو کې د ۱۰۰ ميلیارده ډالرو مرستې نه بسنه کوي او نه هم د کوم ځانګړې پرمختګ زيری راکوي. ځينې ادعال کوي، چې د طالبانو نظام د فدړالېزم رامنځ ته ته ښه فرصت برابر کړی. په داسې حال کې چې هېواد يوځای کول او د مرکز امر په ټول هېواد کې پلی کول، طالبان خپله لويه لاسته راوړنه په ګوته کوي. په دې برخه کې هرډول کوښښ د طالبانو د لا ځواکمنتيا لامل کېدی شي. د طالبانو ځينو مخالفينو د فدړالي نظام طرح تدوين کړي او په دې تمه دي، چې د طالبانو له پرځېدو سره سم به، په دې کار لاس پورې کوي. هرڅومره چې د طالبانو مخالفين د کرکې او تجزې خبرې کوي، تر همغې کچې د طالبانو دريځ او په ولس کې محبوبيت پراخېږي. فدړالېزم محلي زورواکانو ته سياسي مشروعيت ورکوي، د بهرنيو لاسوهنې بنسټيزه کوي او له مرکزه تېښتنه معمول امر ګرځوي، څکه فدړالېزم افغانانو ته سياسي زهر او ځان پاله قومي سياسيونو او کمين کې ناست بهرنيو ته طلايي تحفه ده.

**ط- قومونو او مذهبونو ترمنځ وسله واله شخړې:** قومي فدړال غوښتونکو ډېرې هڅې کړي، چې افعانستان کې د نفاق زړي وکري او د افغانستان ناخوالو ته د قومي تضادونو او د قومي او مذهبي هويت د حذف نوم ورکړي، ترڅو د افغانانو ترمنځ شخړې رامنځته کړي او هم نړيوالو ته ځان مظلوم وروپېژني، خو په دې کار کې بريالي شوي نه دي. د بېلګې په توګه، په وروستي ځل عبداللطيف پدرام په نوم يو شخص چې د طالبانو په ضد د مقاومت ډلې غړی و، د ډلې په مشرانو فشار راوړه، ترڅو له طالبانو سره جګړه قومي اعلان کړي، خو له جبهې ووېستل شو. دا په داسې حال چې خپله ددې ډلې مشر هم نه په افغانستان کې ډېر اوسېدلی او نه هم د افغانستان بيرغ، سرود او تاريخ ته يې درنښت درلود او حتا د خپل پلار احمد شاه مسعود له لارې منحرف شوی، څکه تل يې د سويس فدړال ماډل د پلي کېدو خوبونه بيان کړي. عبداللطيف پدرام چې د نفاق او قومي شخړو سرسخت پلوی دی، ولس له ځانه لرې کړی او هم د مقاوت ډله چې د سويس ماډل خوبونه ويني، ورځ تر بلې يې پانه رژېږي. کله چې د ايران په مرسته کريم خليلي او د اوزبکستان او روسې په مرسته جنرال عبدالرسيد دوستم د فدړالېزم طرحې او حتا د خپلواکو اوزبک او هزاره هېوادونو نقشې هم جوړې کړې وې، د ولسونو له لوري رد شول او دا کار يې خيانت او د ټولې سيمې د بې ثباتۍ د پيل لامل وبلل شو، پخپلو خوبو نو کې ويده پاتې شول. د تاريخ په اوږدو کې قومي شخړې نه دي شوي، خو په فدړالي کېدو کې به قومي شخړې او قتل و قتال تاريخي بڼه خپله کړي. تل عبداللطيف پدرام ويلي، چې که چېرې فدړال ايالتونه رامنځ ته شي او مرکزي حکومت وغواړي ملي پيسې چاپ کړي، ملي سرود ولري او يا د افغانستان تاريخ، او ملي احساس او ګډ ارزښتونو ته کوښښ وکړي، دا به د جګړې اعلان وي، او افغانستان کې به د بالکان تجربه تکرارېږي او کلي په کلي او کوڅه په کوڅه به جګړې وي او په دې اند دی چې هر فدړالي ايالت به خپل سرود، بيرغ او ارزښتونه پالي. کله چې د فدړالېزم سرسخت پلوی، دا عقيده ولري، ايا اوس هم داسې څوک به وي، چې فدړالېزم قومي جګړه او تجزيه و نه بولي؟ هغه جنګ جګړې، چې په ۹۰ يمو کلونو کې شوي، هغه د ډلو ترمنځ د خپلو کټو يا د بهرنيو اجنډاو د پلي کېدو جګړې وې. حزب اسلامي او جمعيت اسلامي د پښتنو او تاجکو ګډ احزاب دي او که چېرې دا قومي جګړې وی، قومونو به سره يو او بل وژلي وی، خو نه داسې نه وه، دا د جګړه مارو جګړې وې. د افغانستان ستونزه قومي نه ده، بلکې بې عدالتي او وارد شوې افراطي سياسي ايډيالوژۍ وې، چې د قانونمند، لسواک او پايداره نظام مخه يې نيولې.اساساً، د افغانستان شمال د قومونو موزايک دی، څکه اوزبېک، هزاره، عرب، ګجر، ايماق، قزلباش، پښتون او تاجک هلته مېشت دي، چې خيالي فدړالېزم به په ځآنګړې توګه د هېواد شمال په قومي حذف او جګړو بدل کړي، چې دا حالت هېڅ افغان ته د منلو نه دی، څکه فدړالېزم او فدرال غوښتونکي تل محکوموي.

**ی- د افغانانو کرکه له فدړالېزم څخه:** افغانان چې له فدړال نظام څخه کرکه لري، له دې امله نه ده، چې فدړالېزم د پښتنو واکمني ګواښي، بلکې فدړالېزم افغانستان او افغات ملت ګواښي. که چېرې موخه د کمونېستانو، اخوانيانو او شاهانو واک وي، ددې نظامونو مسولينو د پښتنو استازيتوب نه دی کړی. شاهي کورنۍ خپله قومي ژبه نه وه زده او ترڅنګ يې ډېری پښتون مېشتې سيمې ډېرې وروسته پاتې او لکه د هېواد نورې سيمې د ژوند له لمړنيو اسانتياو بې برخې دي. که وويل شي چې افغانانو په ځانګړې توګه پښتنو افغانانو د فدړالېزم مخالفت د خپل اقتصاد په موخه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کړی، دا د عصبیت او له کرکي ځخه منشا اخلي، ځکه په فډرال ایالتونو کې له ټولو سخت هزاره افغانان له اقتصادي پلوه ځپل کېږي. یوازې پښنانه نه بلکې غوث اکثریت افغانان فډرالېزم نه مني، چې ښه بېلګه یې احمد شاه مسعود و چې په کلکه یې د فډرالېزم مخالفت کړی. کله چې د مجاهدینو ترمنځ د ډلو ټپلو جګړې رواني وې، عبدالعلي مزاري د فډرال نظام غوښتنه وکړه، چې په هغه وخت کې له بي بي سي سره د مرکې په ترڅ کې احمد شاه مسعود په کلکه رد کړه او فډرالي نظام یې د تجزې په لور ګام وباله. د مجاهدینو په دوران کې او هم په تېر جمهوریت کې سیاسي واک تر ډېره تاجکو افغانانو سره و، خو تاجکو افغان مشرانو هېڅکله د فډرال غوښتنې نه دي کړي بلکې تل یې رد کړي او دا یې د تجزې غوښتنې ګڼلي. ځینې هزاره او اوزبېک جنګپالو قوماندانانو له لوري چې د فډرالېزم غوښتنې شوي، هېڅکله د هزاره او اوزبېک قوم استازي توب نه شي کولی، که چېرې داسې نه وی، اوس به دا مشران د بهرنیو هېوادونو پر ځای په ولس کې وی او د ولس مشري به یې کوله. کله چې عبدالطیف پدرام د فډرال غوښتنې جرئت کوي، بیا د تاجکو افغانانو له لوري له صحنې څنډې ته کېږي، چې ښه بېلګه یې د ۲۰۰۴ کال ولسمشریزې ټاکنې دي. کله چې عبداللطیف پدرام د فډرال له طرحې سره ځان نوماند کړ، یوازې دوه سلنه رایه یې په څه هنر تر لاسه کړه او چې کله احمد مسعود د فډرال غوښتنې کوي، بیا ولس یې پخپل ولایت کې لس ورځې هم نه شي ساتلی، خو پلار یې د مرګ تر ورځې په خپل ولس کې اوسېدو.افغانان ځکه له فډرال نظامه لرې ځي، چې دا د هېواد او ملت د ټوټه کېدو او بدمرغۍ پیلامه ګڼي. کله چې یو ملت د یو نظام مخالف وي او بلکې ډېر حساسیت ورسره ولري، څنګه شونې ده، چې هلته دې د فډرال بحث مطرح شي او یا دې خریدار ولري؟

**ک- د افغانستان د سیاسي جریانونو له لوري د فډرالېزم رد:** له څو قومي فډرال غوښتونکو پرته، د افغانستان د ټولو افکارو سیاسیون فډرالېزم په کلکه ردوي. لومړۍ کټګورۍ اسلامپاله اخوانیان او په څه توپیر طالبان دي، چې فډرالېزم او تجزیه د یوې سېکې دوه مخه ګڼي، په کلکه یې ردوي او د هېواد ستونزو ته د حل لار د اسلام او شریعت په پلي کېدا کې ویني او د افغانانو ترمنځ په اسلامي وروولي باور لري او له دې لارې واحد اسلامي افغانستان غواړي، خو چې له کوم اسلامي سیاسي او اقتصادي ماډل څخه ګټه پورته کوي، لا ډېره روښانه نه ده، ځکه په دې برخه کې لا ډېر کار ته اړتیا ده. دویمه ډله سُنتي سیاسیون دي، چې د سُنتي اسلام او افغاني دودونو په رڼا کې واحد او بسیط افغانستان غواړي او تاریخي او ملي ویاړونو او ارزښتونو د پاللو ترڅنګ یو ډول محافظه کاره سیاسي رفتار کوي. دریېمه کټګوۍ په ولسواکۍ باورمند روڼد اندي دي، چې د ولسواکو ازرښتونو په رڼا کې او د اصیلو اسلامي او مثبتو افغاني ارزښتونو پر بنسټ، یو پرمختللی، قانونمند، عادل او ولسواک بسیط نظام غواړي، ترڅو ټول افغانان د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب ولري او هم له نړۍ سره په ښه تعامل مخکې ولاړ شي. پورته درې واړه کټګورۍ فډرالېزم په کلکه ردوي او فډرال غوښتونکي مشکوکې څېرې معرفي کوي.

**ل- د ولسواکو نظامونو پر وړاندې ننګونې:** په ټوله کې د ولس سیاسي اګاهي اړینه ده، خو اسلامي برداشتونه، سنتي دودونه، فقر، بې کاري او بې سوادي هغه عوامل دي، چې د جمهوري نظام پر وړاندې یې جدي خنډونه را مخ ته کړل ، ځکه خو ورځ تر بلې ولسواکۍ خپل رنګ بایلود. که د افغانستان د ۲۰۰۵ کال د ولسي جرګې ټاکنې د ولسي جرګې له وروستیو ټاکننو سره پرتله کړۍ او یا د ۲۰۰۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنې د ۲۰۱۹ کال ټاکنو سره پر شي، د ولسواکۍ مسیر به ښه روښانه شي. دا چې څنګه ولسواکۍ ته بستر سازي وشي، جلا بحث دی، چې په مناسب وخت کې به پرې شننه وشي. هغه ارمان پاله فډرال غوښتونکي چې سېکولر او لېبرال فډرالېزم تصورات په ذهن کې پالي، ایا د خپلو مشرانو له میراثي او فډرال ضد سیاستونو خبر دي او که نه؟د بېلګې په توګه، د قومي فډرال غوښتونکو ګوندي مشران حتا پخپل ګوند کې په دوه لسیزو کې ګوندي ټاکنې نه دي کړي، خو ځان به د فډرال ولسواکو ارزښتونو او ولسونو ته په سیاست کې د ګډون مدافعین معرفي کوي، خو په ملي کنګرې حزب کې له عبدالطیف پدرام پرته بل څوک نشته چې حتا دوه لسیزې وروسته د ګوند مشري په غاړه واخلي؟په همدې ډول نور قومي فډرال غوښتونکي که هغه جنرال عبدالرشید دوستم دی او که احمد مسعود، له میراثي سیاست څخه په بل څه باور نه لري، خو د فډرالېزم خیالي هڅې به کوي او نړیوالو ته به ځان لېبرال، سېکولر او په سیاسي پروسو کې د ولس په ګډون به بحثونه کوي. ددوی خیالي فډرالي ایالتونو کې به هم سیاسي قدرت میراثي وي او ولس به د تل په څېر له سیاسته لرې وي، ځکه خو هېوادپال افغانان دا څېرې او د فډرالېزم ماهیت ته په کتو، د تل لپاره فډرالېزم مردود ګڼي.

**پایله**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قومي سیاستوال د قومي، ژبني او مذهبي هویت د حذف او له سیاسي واکه د لرې پاتې کېدو په بهانو، فدرال نظام مطرح کوي او د امریکا متحده ایالاتو، سویس او استرلیا بېلګې د بریالیو فدرال سیاسي نظامونو په توګه وړاندې کوي، خو اټکلونه یې تل ناسم او فدرالي طرحه یې خیالي او مغرضانه ده، ځکه د افغان ملت له لوري تل دا ډول مغرضانه طرحې رد شوي.

اساساً هر سیاسي نظام خپلې ښې ګڼې او نیمګرتیاوې لري، خو فدرال سیاسي نظام ډېر متنازع او په پاراډوکسي نظریاتو سرخې، ځکه خو مخصوصاً وروسته پاتې هېوادونو ته سیاسي زهر دی. تر ډېره هغه فدرال نظامونه، چې د خپلواکو جغرافیه وي ساحو له یوځای کېدو څخه رامنځ ته شوي او پخپله خوښه یې مرکزي فدرال ځواک رامنځ ته کړی، ترڅو خپل پرمختګ او پایښت خوندي کړي او یا هم هغه هېوادونه چې جغرافیه وي مساحت یې ډېر لوی دی، چې له یو مرکز څخه یې حکومتوالي ننګونکې وه، د فدرال سیاسي نظام په چوکاټ کې بریالي شوي، لکه سویس، استرلیا او د امریکا متحده ایالات. ددې هېوادونو سیاسي، اقتصادي او ټولنیز تاریخ او حالاتو ته په کتو، پرته له فدرال نظام څخه که هر بل ولسواک نظام یې غوره کړی وی، بیا به هم بریالي و، خو ډېری نور فدرال نظامونه ټوټه ( تجزیه ) شوي یا د پاشل کېدو په درشل کې دي، خو په ټوله کې هغه ملتونه او دولتونه بریالي دي، چې ولسواک او قانونمند نظام او د مشروع ځواک د کارونې وړتیا او ولسونه یې د هېواد پالنې حس ولري. ویښو ملتونو د خپلو هېوادونو عینې او ذهني شرایطو ته په کتو، ځان ته د نظام ښه ټاکلی.

د فدرالېزم ذاتي نیمګړتیاو، د وروسته پاتې هېوادونو فدرالي تجربو، د ابر ځواکو دولتونو بې بندو باره سیالیو، د افغانستان جغرافیه وي موقعیت او د افغان ټولنې عیني او ذهني شرایطو ته په کتو، فدرال نظام هېڅ افغان ته د منلو نه دی، خو فدرال غوښتونکي د ځانګړو غرضونو په موخه هغه طرحې وړاندې کوي، چې افغانستان ته له بد مرغۍ پرته کوم بل زېری نه لري. قومي فدرال غوښتونکي د افغانستان له نوم، تاریخ، ملي هویت، ملي کرنسۍ، ملي شخصیتونو او حتا ملي سرود او بیرغ سره سخت حساسیت لري او ددې ارزښتونو د له منځه وړو په موخه تر هر بریده مخکې ځي. د دوی د سیاستونو پر بنسټ، که چېرې فدرالي ایالتونه رامنځته شي، د افغانستان پورته هویتي او ارزښتي مسایل به ردوي، پخپلو سیمو کې به واړه قومونه حذفه وي، د خراسان زمین ترانې به وایي، محلي قوماندانانو ته به د اتلولۍ القاب کاروي، د سیمو نومونه به د محلي قوماندانانو په نوم کوي، جګړه مار او قومي فدرال غوښتونکي به سیاسي واک میراثي کوي، د ملاتړو هېوادونو اجنډا به په ښه توګه پلې کوي او تل به له نورو افغان قومونو او له مرکزي حکومت سره په تضاد اخته وي او ورپسې به له مرکزي فدرال څخه د خپلواکۍ او یا به له ګاونډیو هېوادونو سره د ادغام هڅې وي.

له فدرالېزم سره د افغانانو حساسیت په سیاسي واک کې د کوم ځانګړي قوم د پاتې کېدو او یا هم د ځانګړې ډلې د واک د غځېدو په موخه نه دی، ځکه خو هغه سیاسیون او سیاست پوهان، چې د فدرالېزم سرسخت مخالفین دي، د طالبانو په حکومت کې شتون نه لري او نه یې هم په جمهوریت کې کوم سیاسي واک درلود، بلکې موخه د افغان ملت او د هېواد د پایښت او پرمختګ او د افغان ورونو قومونو نجات دی. د فدرالېزم نظرې او طرحې، چې ظاهراً د ځینوقومي سیاستوالو او له بهره د هڅول شوو څېرو له لوري، په ارماني او یا له بغضه په ډکه توګه د هېواد د ستونزو د حل په پار وړاندې کېږي، ستونزې لا پیچیده کوي او په بحران کې بحرانونه زېږوي. فدرالېزم هغه ملي موخې او ارزښتونه، چې افغانانو د تاریخ په اوږدو کې د هغوی د ساتلو او پاللو لپاره سر ښندنې کړي، له خاورو سره خاورې کوي. له همدې امله، افغانان داسې پلان شوې دسیسې او سیاسي خوبونه په کلکه ردوي او طراحانو او زمزمه کوونکوته یې ارماني تجزیه غوښتونکي او ځان پاله نفاق اچونکي وایي.

ددې تېپي او ناروغ ملت درملنه په زهرو نه کېږي، بلکې د لوړو انساني، اصیلو اسلامي او مثبتو افغاني ارزښتونو په چوکاټ کې د انسان محوره ولسواکۍ، قانون واکمنۍ، ښه حکومتوالۍ، عدالت او د ښځینه او نارینه فردي ازادۍ دارو غواړي، چې ټپونه یې ورغول شي او د هوسا او سوکاله ژوند ساه واخلي، چې په دې برخه کې د نړیوالو مالي او تخنیکي مرستې او سیاسي ملاتړ مثبت ثابتېدی شي. له هغه ځایه چې ولسواکي او د مشروع نظام درلودل د ویښو ملتونو لپاره هم هدف دی او هم وسیله ده، باید په بسیط سیاسي نظام کې د غیر متراکمه ولسواکه نیمه ریاستي یا ولسواکه پارلماني او قانون من دولت په لټه کې شو. د انسان محوره ولسواک نظام په چوکاټ کې، حکومت باید د پایښتي ملي ګټو د خوندي توب تر څنګ، ولسواکۍ، ازادۍ، قانون مندۍ او په سیاسي پروسو کې د ولس ګډون ته لمړي توب ورکړي، ترڅو د هر افغان قومي، ژبني او مذهبي هویت خوندي او داسې هېلې وټوکوي، چې یو هزاره، بلوچ، نورستانی او پشه یي افغان وشي کولی د هېواد ولسمشر یا صدراعظم شي او هم په نړیوال کلي کې د سوله ییز ژوند هیلې را ژوندی شي.

**پای**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ